مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهیم سپیڅلی

۲۰۲۶/۰۸/۱۰

# د خان عبدالصمد خان اڅکزي کتاب ته لنډه کتنه

«زما ژوند او ژوندون» د خان عبدالصمدخان اڅکزي ۳۹۲ مخه لیکل سوی کتاب دی:
دغه لومړی ټوک د نورو کتابونو په پرتله په لړ لویه کچه په کوټه کي د العابد کمپیوټرګرافیکس له خوا پنځلس کاله ترمخه( ۱۳۸۳) لمریزکال چاپ اود (پښتونخوا ادبي ځانګي) لخوا پر سپین کاغذخپور سوی دی، خو تیراژ یې نه دی معلوم، چي څومره جلده چاپ سوی دی؟

د کتاب چاپچاري فروفیسور عبدالغني غنو سرته رسولي اود یو ټوک قیمت یې ۴۰۰ څلور سوه پاکستانی کلداري ورته ټاکلی دی.

کتاب کلک پوښ لري، چي پر اول مخ یې د خان عبدالصمد خان اڅکزي د سپین ږیروالي عکس رسامي او لاندي په تور خط داجمله لیکل سوي ده:

بابای پښتون، خان شهید عبدالصمد خان اڅکزی.
خان بابا کتاب خپلي میرمني ته اهداء کړی دی.

کتاب تر ۶۴ مخ پوري په لاس لیکل سوی او وروسته بیا کمپوز سوی دی، خو یادونه نه ده سوې، چي دغه په لاس لیکل سوی د چا دی.

د خان شهید دغه کتاب، چي ما دا یوځو کرښي پر لیکلي دي، له څلورمي پاني وروسته یې تر یویشتمي ورقي پوري نوري ټولي غچي سوي او دلته ما ونه لوستلای سوې، دا چي ولي غچي سوي دي؟

خان عبدالصمد خان دغه کتاب په خپله ځانګړي املاء یا لیکدود لیکلی.

د کتاب له یوویشتم مخ څخه بیا ترڅلورشپیتم مخ پوري خان شهید د خپل جوړ کړي پښتو لیکدود په اړه ډېر وضاحت او مثالونه لیکلي دي. د لیکدود تروضاحت وروسته د کتاب فهرست لوستونکو ته په مخه ورځي، چي په یاد سوي لیکلړ کي دغه ۵۲ سرلیکونه راغلي دي.

«زوکړه ، کورنی، وړوکوالي ، د پلار مرګ، د پښتو لوست، ښوونځی، ناجوړي، ازموینه ، کامي لیوالي، د افغانستان د ازادی جنګ ، توخک، کاختي ، وبا، بول، د ښوونځي استادان، زموږ ښوونځی، ګټي او اخیستني، ښکار، د ښکار ګټي، د شپو ښکار، ازادي، د بدو ملګری، د خدای پاک کومک، مرانه( بلوغ) بچه بازي، د بچه بازی ډولونه، تنګ ټکور، ناټک، وړاندي لوست او زمانګاري، زمینداري اود میوې سوداګري، کښبوغ یا بزګري، سرسیداحمدخان او مولانا شبلي، د پیرانانو ازموده، د پیرانانو اود هغو د ایجنټانو درغونه، سرکاري دفترونه او واکوالان، د هیواد مینه او پښتني پت، غازی امان الله خان، د غازي امان الله خان دیورپ دوره( سفر)واده ، یادګار، د پښتنو سادګي، د غازي امان الله خان جنګ او زما لومړی بند، د پولیټکل سپک کار، د غازي محمد نادر جنګ، د بلوچستان شان، جرګه، د جرګي غړي او ملکان، د مالداری بېغوري، سوداګري او نوکري او داسي نور...»

«زما ژوند او ژوندون» کتاب خان بابا، په (۱۹۵۹) عیسوي کال د جولايي میاشتي پر دویمه د ملتان په «ډسټریکټ» زندان کي شروع کړی اوداسي معلومیږي، چي لیکلو ته یې پوره وخت درلود، ځکه داکثرو موضوعګانو په اړه یې نسبتا اوږدې لیکني کړي دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

د موضوعاتو د کره والي او په زړه پوري والی په موخه يې ژوندي مثالونه، د سترګوليدلی حال، د مشرانو، همزولو او ځوانانو نقلي قولونه لکه کيسه بيان کړي دي.

په ځينو ځايونو کي يې د موضوع ژوروالي او پسمنظر ته د ورګرځېدو لپاره د افغانستان د معاصر تاريخ پاڼي هم په دقت مطالعه کړي دي،د بيلګي په ډول د وزيراکبرخان، شاه شجاع، ايوب خان او ځينو نورو مشهورو تاريخي کسانو په اړه، چي دوی کوم معلومات وړاندي کړي دي، هغه د تاريخ له ژوري مطالعي څخه ماسوا امکان نه لري. خان شهيد په دې کتاب کي له خپلي کورنی او کوچنيوالي څخه نيولي تر بلوغ ، وراده مسافرۍسوداګرۍ او دسياسي ژوند ترڅنګ د خپل کلي د ګلستان عنايت الله کاريز او ځينو شاوخوا پښتنو په اړه د هغه وخت حالات په داسي جرائت ليکلي، چي ډېری ليکوالان يې اوس هم د ليکولو توان نه لري، د مثال په ډول د مور او ميرمني نوم يادول هغه څه دي، چي له نيمي پېړی وروسته يې هم اکثريت ليکوالان له ليکلو ځان ببچي.

همدارنګه خان شهيد په ( زما ژوند او ژوندون ) کي د پښتنو ځينو ټولنيزو نيمګړتياوو ته هم په مېړانه ګوته نيولې، چي په پښتني ټولنه کي پردغسي حساسو موضوعګانو سپيني خبري ليکل د هر ښېرندوکي اوتش په نامه ليکوال کارنه دی.

د خان عبدالصمد خان اڅکزي په دغه کتاب کي بله مهمه خبره داده، چي خان شهيد دلته اکثره داسی سوچه پښتو لغتونه خوندي کړي ، چي ما بل ځای نه دي لوستلي، چي دا ددې کتاب يوه ډېره مهمه ښېګنه ده.

ما د دغه کتاب د لوستلو پرمهال يوشمير لغتونه له ځان سره يادابنت کړل اوکيداسي نورلغتونه هم خان بابا کتاب په متن کي کارولي وي، چي ښايي زما ورته پام سوی نه وي يامي د کتاب دمطالعي پرمهال يادښت کړي نه وي او اوس راڅخه هير دي.

هغه يادابنت کړی لغتونه په دې ډول دي:

لغړ = د خاص او ځانګړي پرځای کار کوي
قرانکريم = سپين کتاب/ د خدای کتاب / سپين پاڼرکی
اټکل = منطق
پوهيتي= شعرونه
پوهيتان= شاعران
توسير= تفسير
استازی= پيغمبری
روز= ورځ
ناپېښه کارونه= معجزې او کرامات
لاسنيوی= اسناد
کتاب اولمن= متن او حاشيه
مړوښي= کوروالی يا جماع
بالکی = خدمتګار
غوڅي = غيږ
کوتار= قصاب
بهاګورغمي= جواهرات
درمانتون= کلينک، روغتون
ميانځګړی= محکمه
نالښت= عريضه، دعوه
ښکوميان= جاسوسان
واک والان= سياسي مشران
پلو= ولسوالي
ټکی= املاء
اوچت ښوونځی= ليسه
ستراستاد= سرمعلم يا مدير
ستروا ک وال= رييس


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

ختلی = کامیاب
تېسن= د ریل ګاډی تم ځای
سرکار= دولت
موک/ بډي = رشوت
لوستو= مطالعه
برید= تاثیر، اغیز
درماني= طبیب
زاوال= ظلم
د خلو خاوري= خورده
ست = قانع
بادوبی= اقلیم
غم = دولتي مالیه
لاسګری= ضمانت
لاسلیک= تصدیق
شرونی= پناه اخیستونکی
اتل پتل= انقلاب
خلی= قبر
نیوکه = قبضه
اولس واک= جمهوریت
هسکار = قصدا
ناکاري= انکار
وېشن= تقسیم
ګانه = ګروي
شلاوڼ= حق العضویت/ بسپنه
چرچوبی= غسل خانه
کنبوغ= بزګري
میانځ = انصاف
میانځی بنوونځی= منځنی ښوونځی
شاګی= پسمنظر
ویناوي= حدیث
دود= فقه
ځان پوهه = علم النفس
کېڅی= د پیسو جیبي بټوه یا پټاکېدانه
پتاری= جنازه
جوړاون = ګرامر
ملنګي= تصوف
اړهه = دولتي دنده
ایله جاري= رضاکاران
خسماني= خدمتونه
ستر وزیر= صدراعظم

لکه ترمخه، چي مویادونه وکړه، کتاب د خان شهید لخوا په جوړه کړي املاء لیکل سوی.

په دې لیکدود کي د نورو ځانګړتیاو ترڅنګ  دلته یومخ له عربي حروفو مخ اړول سوی، ان خپل نوم یې لا په «اودل سمد خان» اود افغانستان مشهور نوم یې په «اوغانیستان» بنه کښلی دی.

په دې لیکدود کي د اوږد او لنډ واو او (یاګانو) لپاره په هغوی پوري بېلا بېلي نخښي نښل سوي دي، چي پښتو لیکدود یې نورهم سخت کړی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د ښېلګي په ډول د زورکي لپاره د توري پر سر د «۷»عدد ليکي ، د زور ، زير او پېښ پرځای (الف، ی، و) ليکي لکه: ګوليستان، مولتان ، تيلتک ياهم په اوسنی املا ء کي راغلي مرکبي کلمې جلا ليکي لکه ولس واکي او همدارنګه ډيري خبري په دې ليکدود کي سته، چي په دې اړه جلا مقالي ياهم رسالي ليکلو ته اړتيا ده.

مګر بياهم په کتاب کي د خپل جوړ کړي ليکدود په له دې دومره زيات وضاحت سره دده ليکدود د اسانی پرځای ډېري پېچلتياوي لري او ماخو د کتاب د لوستلو پرمهال داسي احساس کاوه، لکه دبل چا دسترګو پر لمبر جوړي سوي عينکي چي مي پر سترګو وي، نو ځکه مي يوه جمله دوه يا دري واري له سره لوستله، خو بيابه هم ځينو جملو ته حيران وم، چي څنګه يې تلفظ کړم؟

يوه بله خبره هم ديادوني وړ ده، چي که چيري په کتاب کي د بيان کړو پېښو سره نېټه هم ليکل سوې وای، نو به د کتاب کره والی نورهم ټينګ سوی وای، لاکن اوس په دغه کتاب کي يوشمير راغلي مهم واقعات او تاريخي جريانونه لکه عادي روايتونه بيله دقيقي نېټي بيان سوي دي، د مثال په ډول د غازي امان الله خان ديورپ دوره( سفر)، د غازي امان الله خان جنګ او زما لومړی بند، د افغانستان د ازادی جنګ د غازي محمد نادر جنګ، چي داهره پېښه خپل تاريخ، ځای اونور تاريخي مشخصاتو بيانولو ته کلکه اړتيا لري، همدارنګه ددوی او شاوخوا سيمو کي د وبا او ټوخک د وژونکو ناروغيو د خپرېدو ترڅنګ، د کاختی اووچکالی کلونه، چي د خان شهيد په وينا په سلهاوو خلک يې تاواني او ووژل لاکن دقيق تاريخ يې نه دی بيان سوی، چي ددغو مهمو تاريخي پېښو دقيق تاريخ نه يادولو يې د کره والي ګراف يوڅه راکښته کوي.

که د انصاف په سترګو دغه کتاب وکتل سي، نو تر نيمګړتياوو يې ښېګڼي زياتي دي او په څو واري ويلو ارزي. تر هرڅه اول پښتونخوا ملي عوامي ګوند، د افغانستان د سرحدونو او قبايلو چارو وزارت او نورو خپرندويه ټولنو او ملي سوداګرو ته ښايي، چي دخان شهيد ناچاپ اثار هم د چاپ په ګېڼه وپسولي، ترڅو پښتانه او نور ملتونه لاهم د خپل ملت په غم کي سترې قلمي مبارز ښه وپيژني او ځوانان يې له سالمي مبارزې او هيوادپالني له مېتود سره بلد سي.

۱۸ ــ ۱۲ ــ ۲۰۱۹

---

دغه مقاله په کندهارکي د خان عبدالصمد خان شهيد د ۴۶ تلين په مناسبت په جوړه سوي غونډه کي هم ولوستل سوه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ